يوسف انتظار

# دملي نجات ورځ د سره ښکېلاک له شرمه ډکه ماتې

زموږ ګران هېواد افغانستان د نړۍ په سياسي جغرافيه کې د خپل سياسي شتون له مهاله بيا تر ننه د تاريخ د ډېرو لوړو ، ژورو ګرمو او زړه بګنونکو پېښو له بتۍ سر راپورته کړي او د ژوندانه د دباوو هر ډول ناخوالي يې په سره سينه زغملي دي.

زموږ هېواد د وروستيو دريو نيمو لسيزو په اوږدو کې د کورنيو ستونزو،نړيوالو او سيمه ييزو هېوادونو د توطيو او دسيسو له امله په کنډواله وواښت، مادي او معنوي شتمنۍ يې تالا ترغه شوې او ولسونه يې د ډېرو ترخو او ناوړه شيبو لکه بې وزلي، لوږې ، بې کارۍ، مهاجرتونو ، ويني تويوني او ناروغۍ سره لاس په ګريوان پاتې شوي دي او ددې اوږدې غميزې لړۍ تر اوسه په خپل ځای پاتې ده. تاريخ ددې شاهد دی ، چې افغان باتور ولس هم د تاريخ په اوږدو کې د يرغلګرو او نيواکګرو پر وړاندې د خپل هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا ملي حاکميت او خپلواکۍ څخه د ځمکي په دې مهمه او حساسه سيمه کې د خپل سياسي شتون څخه په مېړانه او سرښيندنې دفاع کړې ده ،چې مهمې بيلګې يې د افغان – بريتانيه او افغان – شوروي تر منځ خونړۍ جنګ جګړې زموږ په لرغوني تاريخ کې د يادونې وړ دي. نو همد لامل دی ،چې زموږ هېواد د تمدن او پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې شوي دي. افغانستان دخپل جيوپوليتيک ، جيو ستراتيژيک شتو ن له امله بهرنيانو ته د پام وړ جغرافيه ده ، نو څکه د تاريخ په اوږدو کې په ځانګړې ډول د دويمي نړيوالې جګړې را وروسته د نړۍ زياترو هېوادونوپه ځانګړې ډول زبر ځواکونو پر افغانستان باندې په يونه يو ډول د ولکې د تر لاسه کولو په فکر کې دي او غوارې خپلو موخو ته د رسيدو لپاره په هره لاره ، چې وي دلته خپلې پښې کلکې کړي. کله ، چې په ۱۳۵۷المريز کال د ثور په اومه په هېوادکې د وسلې دزور په کاروني سره واک د يوه ځانګړې ګوند په لاس کې پريوت ، د دوی هڅو لا زور واخيست په هېواد کې دافغانستان خلک، ديموکراتيک ګوند غړو د سياسي پختګۍ نه شتوالي له يوې خوا ، او له بلې خوا د ګوند له سياسي او مرامي اهدافو سرغړونه ، د ولسواکو او ترقۍ غوښتونکو غورځنګونو سره د دښمنۍ پالل، دقدرت انحصار ، دخلکو پر وړاندې د وچ کلک او ناوړه چال چلند کارونه ، دچارو په پر مخبيولو کې بيړه او د تېلنيزې ، اقتصادي ودې او پرمختګ له اړينو پړاوونو تېرپ وهنه، په ديموکراتيکه مرحله کې د ديموکراتيکو دندو د اجرا پر ځای دتوندو ، احساستي او انحرافي کړنو تر سره کول د ځوان حاکميت پر وړاندې د خلکو بې باورۍ ته لاره هواره کړه او په پايله کې هېواد په پراويز ډول د بحران په لور خپل يون پيل کړ. خلکو د هېواد له ګوټ ګوټ څخه وتلو ته ترجيح ورکړه، پاکستان ، ايران او د نړۍ نورو هېوادونو ته په مهاجرت کولو اړ شول ، ياد هېوادونه ، چې دافغانستان پر وړاندې د يوې داسې

ورځې په هيله وو موکه په لاس ورغله او د رامنځته شوي بحران لانوري ژورتيا ته يې لمن ووهله او زموږ په هېواد کې يې د خپلو لاسوهنو بهير ته لاره پرانيسته. د اسلامي ډلو ځينې مشران ،چې د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال لا له وړاندې په پاکستان کې ميشت وو ، پاکستان ته د ورتلونکو مهاجرينو د تنظيم او سمبالښت چارې يې د پاکستان د پوځي او استخباراتي ادارو په همکارۍ او لارښونه سره پيل کړې او د پاکستان د پوځي او استخباراتي ادارو له لورې ، دوسلو او تجهيزاتو مرستې ور سره ترسره شوې. د هېواد په ځينو سيمو او ولايتونو کې د نظام پر خلاف پوځي تحرکات پيل شول پوځي حالاتو ورځ تر بلې بدلون ومومند ، دهېواد ځخه د خلکو د وتلو په کچه کې لوی بدلون رامنځته شوو ، دافغان حکومت د راپرځيدو په موخه د هېواد په ډېرى ولايتونو کې جګړيز عمليات پيل شول، د جګړې پر مهال يو شمېر ولسوالۍ اوسيمې د وسلوالو مجاهدينو په لاس کې ولويدې. په هېواد کې يو شمېر اکمالاتي لارې د دولت پر مخ وتړل شوې. دا داسې مهال وو ،چې له يوې خوا د ګوند په مشرتابه کې د واک د خپليدو پر سر ګرمه سيالي روانه وه ، چې ګوند يې د سختو ننګونو سره مخامخ کړې وه او ددې ويره موجوده وه ، چې ځوان حاکميت له ماتې سره مخ شي ، او بلخوا سره جګړه د زبرځواکونو تر منځ د نړۍ دهېوادونو د خپلولو پر سر خپل اوج ته رسيدلې وه. نو پخواني شوروي ،چې دافغانستان سياسي او پوځي پرمختياوې يې په ځير سره ځارلې او نه يې غوښتل ،چې په افغانستان کې د خلک ډيموکراټيک ګوند د حاکميت په له منځه تلو سره داسې نظام رامنځته شي ،چې لويديځ ته نيږدې وي.

نو پخواني شوروي ،چې افغانستان يې د خپلو ستراتيژيکو ګټو سيمه بلله او له دې لارې يې غوښتل ، چې د هند سمندر ګرمو اوبو ته ځان ورسوي نو پرافغانستان باندې د يرغل او واک ته د ببرک کارمل د رسيدو لپاره يې لومړۍ د نور محمد تره کي او حفيظ الله امين ترمنځ موجودو بې باوريو او بې اعتماديو زياتيدو ته لمنه ووهله او په دې اړه يې د خپلو هڅو بهير په چټکۍ سره څو برابره ګړندی کړ او په افغانستان کې خپل استوګن سفير ته يې د نورو دندو د سپارلو تر څنګ د کې، چې، بې د ماهيرينو په لاس جوړ شوی هغه اپوراتيفي پلان وسپاره ،چې په ماسکو کې جوړ شوی وو، ماسکو په دې وتوانيده ،چې په کابل کې د کې ، جي ، بې د مامورينو په هڅو سره د ورکړل شوي پلان پر بنسټ دتره کي او امين ترمنځ د نه باور فضا لا پسې خړه پړه کړي. کله ،چې نور محمد تره کي د کيوبا د کمونيست ګوند په کنګره کې له ګډون وروسته له ها وانا ځخه لومړۍ ماسکو ته لاړ او د شوروي د هغه مهال مشر بريژ نيف سره له ليدو کتو وروسته هېواد ته ستون شو ور سره جوخت د تره کي او امين ترمنځ لفظي شخړو او نانددريو لا زور واخيست او دا ددې لامل شوو ، چې خبره د تره کي تر وژني ورسيږي. د تره کي په وژلو سره حالات نور هم پسې ترينګلي او پيچلي شول. دنورمحمد تره کي تر وژلو وروسته حفيظ الله امين د واک پر ګدۍ کېښناست. مسکو ، چې پر حفيظ الله امين باور او اعتماد نه درلود ، نو دده د واکمنۍ له منځه وړلو لپاره يې تر دې پلمې لاندې ،چې د شوروي په ګاونډ کې يې د پاکستان سره په تفاهم کې د دوی ملي امنيت ګواښولو ته لاره پرانيستې ده، نو په افغانستان کې يې د پاکستان او لويديځ د نفوذ دمخنيوي تر نامه لاندې يې په ۱۳۵۸ لمريز کال د ليندۍ په شپږمه پر افغانستان د ځمکې او هوا له لارې د يو سل ديرش

زرو پوځیانو په شاوخوا کې ،چې په پرمختللو وسلو سمبال وو یرغل پیل کړ ،چې ددې یرغل په پایله کې حفیظ الله امین د تاجبیک په ماڼۍ کې د میلمستیا پر مهال ،چې دماسکو څخه د دستیګر پنجشیري د راستنیدو په منظور جوړه شوې وه د زهر لرونکي سوپ په خوړلو سره ،چې له وړاندې تیار کړل شوي و لومړي مسموم او وروسته د تاجبیک ماڼۍ په لر او بر کې د ځای پر ځای شوي اسلامي کندک تر نامه لاندې د روسي پوځیانو د برید په پایله کې د یو شمېر نورو ملګرو سره یو ځای ووژل شوو. او په دې توګه د شوروي دپوځي یرغل په پایله کې افغانستان د ټولو نړیوالو منل شویو اصولو او د ملګرو ملتونو دمنشور د اصل پر خلاف په بشپړ ډول د سره پوځ په ولکه کې پریوت او ببرک کارمل د روسیې پوځونو د مټو او سرنیزې په زور پر افغان ولس ور وتپل شو اوپه دې توګه د افغانستان خلک ډیموکراټیک ګوند دواړو مشرانو، تاریخي او سیاسي تیروتنو دا وښودله ،چې په خپلو کې بې باوري او په پردیو باور کول د کوم برخلیک پایله کېدای شي. پر افغانستان باندې د پخواني شوروي یرغل د لویدیځي نړۍ کلک غبرګون را وپاراوه او هغه یې د یوه بې وزله او کمزوري هېواد اشغال وباله او افغان مجاهدینو ته یې د شوروي سره په جګړه کې د وسلو او مالي مرستو د ورکړې ټېر وډاباوه. د ملګرو ملتونو سازمان دا تیری وغانده او دافغانستان څخه یې د شوروي پوځونو د ژر تر ژره د وتو غوښتنه وکړه. متحده ایالتونو او د هغې لویدیځ اندیوالان د افغانستان په کشاله کې د شوروي سره ښکر په ښکر شول او افغانستان د زبر ځواکونو ترمنځ د وزلوبې د سیالۍ په ډګر واوښت او نړیواله بڼه یې غوره کړه. په میلونونو افغانان د پولې ها خوا په پاکستان او ایران کې میشت شول.

جګړه په هېواد کې توده په توده روانه وه، د دواړو لوریو څخه په جګړه کې په میلیونونو افغانانو ته مرګ ژوبله واوښته، ملي ناورین او ناتار خپله پراخه سیوره پر هېواد وغوړوله، ختیځ او لویدیځ دواړو دخپلو وسلو جګړیز قابلیت د جګړې په ډګر کې د افغانانو په وژلو ازمایښ کړ. د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې وسلوال پاڅونونه رامنځ ته شول، لویدیځي نړۍ او امریکا د وسلو په خرنګوالي او څومره والي او د مالي مرستو په زیاتوالي کې دپام وړ بدلون رامنځ ته کړ، جګړې خورا ګواښنده بڼه خپله کړه، افغان وسلوالو ځواکونو د جګړې په ډګر کې زیات ځاني زیانونه وګالل. د افغان وسلوالو ځواکونو په لیکو کې د جګړې د پرمخبیولو، جګړیز مورال او روحیه ورځ تر بلې د کمزورتیا پر لور روانه وه. د وسلوالو ځواکونو له لیکو څخه د سرتیرو په تېښته کې نه جبرانوونکي بدلون رامنځ ته شوو د نظام دفاعي او پوځي ځواک په چټکۍ سره کمزوري کیده. په میلیونونو ماینونه دهېواد په ګوټ ګوټ کې ښخ او وکرل شول، په جګړه کې ټول ښنستیز جوړښتونه په چورلتیه توګه دهېواد په کچه له منځه لاړل، هیڅ لوري په جګړه کې غوڅ او پریکنده بریالیتوب تر لاسه نه کړ. دوخت په تیریدو سره کله ،چې د ماسکو زاړه او محافظ کار مشران یو پر بل پسې د نړۍ سترګي پټي کړې او میخایل ګرباچوپ د نوي تفکرد ځلانده څیرې په توګه رامنځ ته شوو. په شوروي کې یې د محافظ کارو کمونیستانو د واک اډانه کمزوري کړه. په نړیوالو او سیمه ییزو مناسباتو کې یې دپام وړ سیاسي بدلون رامنځته کړ. دا په داسې حال کې وه، چې په افغانستان کې د واک پر تخت ناست مشر دخپلې بې کیفایتۍ له امله د ګوندي غړو د مطلق اکثریت د توندو نیوکو سره مخ و او ددې وړتیا یې نه درلوده، چې په بحران او کړکیچ کې ښکیل هېواد سالم چاپیریال ته راوباسي، نو افغانانو ته هم موکه په لاس ورغله ترڅو داسې مشر ومومي، چې له یوې خو

داسې متوازن او معقول سياست رامنځته کړي ، چې ښکيلو خواوو ته د منلو وړ وي او بلخوا ددې سياست پر بنسټ په بحران کې ښکيل هېواد له بحران څخه د رايستلو وړتيا ور سره وي او جنګ جګړو ته د پای ټکی کيږدي.

د دا ډول سياست ټاکل او پلي کول د پخواني ولسمشر نجيب الله په وجود کې شونې ښکاريده ، خو ډاکټر نجيب الله د هېواد د مشر په توګه په داسې شرايطو کې رامنځ ته شو ، چې هېواد په بشپړ ډول په ملي ناورين کې راګير و او نجيب الله يې ديوه ستر تاريخي ازمايښت سره مخامخ کړي وو ، نجيب الله ،چې د ښې سياسي پوهې ، ځيرکتيا او نوښت څخه برخمن وو.

د دراک افغان سياستوال په توګه يې له دې غميزې څخه دافغان ولس د ژغورنې ، ولسواکۍ ، ټولنيز عدالت ، ملي وفاق ، پرمختګ ، بيارغونې او مدني ټولنې ته د رسيدو په موخه يې په سوله ييز ډول د افغانستان کشالې حل ته لومړيتوب ورکړ او د ملي روغې جوړې او پخلاينې سياست ،چې په بشپړه توګه يې د افغانانو له ارادو ، غوښتنو ، هيلو او ارمانونو څخه سرچينه اخېستله او دافغاني ټولنې پر واقيعتونو ولاړه وه نه يوازې دخپل ګوند او دولت د اوږد مهاله سياست په توګه بلکې د هېواد د بيارغونې په اوږده پړاو کې د ټولو افغاني ځواکونو د ګډ ملي او افغاني سياست په توګه مطرح کړ او دا يې ثرګنده کړه ، چې هېوادنۍ ستونزې دم ګړۍ هومره پيچلې شوې ، چې يوازې يو ځوک په يوازې توګه نه شي کولای هغه حل کاندي او دافغان کشالي حل په يو اړخيز ډول په اوس کې واقعيت نه لري او د يوه ځانګړي ګوند د انحصار پر حاکميت يې د بطلان کرښه را وښکله ، ديوه ګوندي دولت د حاکميت پر ځای د ټولو افغانانو د ملي وفاق د حاکميت رامنځته کيدل هدف وګرځاوه. ده خبرداري ورکړ تر هغې به په هېواد کې سوله، امن او ټيکاو رامنځ ته نه شي ترڅو افغاني ښکيلې خواوې په صادقانه او رښتيني ډول د پرديو د لاسوهنې پرته د يوه ميز ترشا راغونډ نه شي او هېوادنۍ ګټې تر ګوندي ، تنظيمي او ځانګړو ګټو لومړي ونه بولي، چې بيا وروسته په مکه مکرمه کې دښکيلو خواوو درا ټوليدو لپاره د داکټر نجيب اله وړانديز خورا مشهور شو.

نجيب اله دخپل واک په ټوله موده کې په هر اړخيزه توګه هڅه او هاند وکړ چې دملي روغې جوړې سياست دپلي کولو لپاره دښکيلو افغاني ځواکونو او ځانګړو افغاني شخصتونو او همدارنګه دښکيلو نړيوالو دولتونو دمثبتو او جوړونکو هلو ځلو لاره

فوذ دمخنيوي تر نامه لاندې يې په ۱۳۵۸ لمريز کال د ليندۍ په شپږمه پر افغانستان د ځمکې او هوا له لارې د يو سل ديرش زرو پوځيانو په شاوخوا کې ،چې په پرمختللو وسلو سنبال وو يرغل پيل کړ ،چې ددې يرغل په پايله کې حفيظ الله امين د تاجبيک په ماڼۍ کې د ميلمستيا پر مهال ،چې دماسکو څخه د دستيګر پنجشيري د راستنيدو په منظور جوړه شوې وه د زهر لرونکې سوپ په خوړلو سره ،چې له وړاندې تيار کړل شوي و لومړي مسموم او وروسته د تاجبيک ماڼۍ په لر او بر کې د ځای پر ځای شوي اسلامي کندک تر نامه لاندې د روسي پوځيانو د بريد په پايله کې د يو شمېر نورو ملګرو سره يو ځای ووژل شوو. او په دې توګه د شوروي دپوځي يرغل په پايله کې افغانستان د ټولو نړيوالو منل شويو اصولو او د ملګرو ملتونو دمنشور د اصل پر خلاف په

بشپړ ډول د سره پوځ په ولکه کې پریوت او ببرک کارمل د روسیې پوځونو د مټو او سرنیزې په زور پر افغان ولس ور وتپل شو اوپه دې توګه د افغانستان خلک ډیموکراټیک ګوند دواړو مشرانو، تاریخي او سیاسي تیروتنو دا وښودله ،چې په خپلو کې بې باوري او په پردیو باور کول د کوم برخلیک پایله کېدای شي. پر افغانستان باندې د پخواني شوروي یرغل د لویدیځي نړۍ کلک غبرګون را وپاراوه او هغه یې د یوه بې وزله او کمزوري هېواد اشغال وباله او افغان مجاهدینو ته یې د شوروي سره په جګړه کې د وسلو او مالي مرستو د ورکړې ټټر وډاباوه. د ملګرو ملتونو سازمان دا تیری وغانده او دافغانستان څخه یې د شوروي پوځونو د ژر تر ژره د وتو غوښتنه وکړه. متحده ایالتونو او د هغې لویدیځ انډیوالان د افغانستان په کشاله کې د شوروي سره ښکر په ښکر شول او افغانستان د زبر ځواکونو ترمنځ د وزلوبې د سیالۍ په ډګر واوښت او نړیواله بڼه یې غوره کړه. په میلونونو افغانان د پولې ها خوا په پاکستان او ایران کې میشت شول.

جګړه په هېواد کې توده په توده روانه وه، د دواړو لوریو څخه په جګړه کې په میلیونونو افغانانو ته مرګ ژوبله واوښته، ملي ناورین او ناتار خپله پراخه سیوره پر هېواد وغوړوله، ختیځ او لویدیځ دواړو دخپلو وسلو جګړیز قابلیت د جګړې په ډګر کې د افغانانو په وژلو ازمایښ کړ. د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې وسلوال پاڅونونه رامنځ ته شول، لویدیځي نړۍ او امریکا د وسلو په څرنګوالي او څومره والي او د مالي مرستو په زیاتوالي کې دپام وړ بدلون رامنځ ته کړ، جګړې خورا ګواښنده بڼه خپله کړه، افغان وسلوالو ځواکونو د جګړې په ډګر کې زیات ځاني زیانونه وګالل. د افغان وسلوالو ځواکونو په لیکو کې د جګړې د پرمخبیولو، جګړیز مورال او روحیه ورځ تر بلې د کمزورتیا پر لور روانه وه. د وسلوالو ځواکونو له لیکو څخه د سرتیرو په تېښته کې نه جبرانوونکي بدلون رامنځ ته شوو د نظام دفاعي او پوځي ځواک په چټکۍ سره کمزوري کیده. په میلیونونو ماینونه دهېواد په ګوټ ګوټ کې ښخ او وکرل شول، په جګړه کې ټول بنسټیز جوړښتونه په چورلټه توګه دهېواد په کچه له منځه لاړل، هیڅ لورې په جګړه کې غوڅ او پریکنده بریالیتوب تر لاسه نه کړ. دوخت په تیریدو سره کله ،چې د ماسکو زاړه او محافظ کار مشران یو پر بل پسې د نړۍ سترګې پټې کړې او میخایل ګرباچوپ د نوي تفکرد ځلانده ځیرې په توګه رامنځ ته شوو. په شوروي کې یې د محافظ کارو کمونیستانو د واک اډانه کمزوري کړه. په نړیوالو او سیمه ییزو مناسباتو کې یې دپام وړ سیاسي بدلون رامنځته کړ. دا په داسې حال کې وه، چې په افغانستان کې د واک پر تخت ناست مشر دخپلې بې کیفایتۍ له امله د ګوندي غړو د مطلق اکثریت د توندو نیوکو سره مخ و او ددې وړتیا یې نه درلوده، چې په بحران او کړکیچ کې ښکیل هېواد سالم چاپیریال ته راوباسي، نو افغانانو ته هم موکه په لاس ورغله ترڅو داسې مشر ومومي، چې له یوې خو داسې متوازن او معقول سیاست رامنځته کړي، چې ښکیلو خواوو ته د منلو وړ وي او بلخوا ددې سیاست پر بنسټ په بحران کې ښکیل هېواد له بحران څخه د رایستلو وړتیا ور سره وي او جنګ جګړو ته د پای ټکی کیږدي.

د دا ډول سیاست ټاکل او پلي کول د پخواني ولسمشر نجیب الله په وجود کې شونې ښکاریده، خو ډاکټر نجیب الله د هېواد د مشر په توګه په داسې شرایطو کې رامنځ ته شو، چې هېواد په بشپړ ډول په ملي ناورین کې

راګیرو او نجیب الله یې دیوه ستر تاریخي ازمایښت سره مخامخ کړي وو ، نجیب الله ،چې د ښې سیاسي پوهې ، ځیرکتیا او نوښت څخه برخمن وو.

د دراک افغان سیاستوال په توګه یې له دې غمیزې څخه دافغان ولس د ژغورني ، ولسواکۍ ، ټولنیز عدالت ، ملي وفاق ، پرمختګ ، بیارغوني او مدني ټولنې ته د رسیدو په موخه یې په سوله ییز ډول د افغانستان کشالي حل ته لومړیتوب ورکړ او د ملي روغې جوړې او پخلاینې سیاست ،چې په بشپړه توګه یې د افغانانو له ارادو ، غوښتنو ، هیلو او ارمانونو څخه سرچینه اخیستله او دافغاني ټولنې پر واقیعتونو ولاړه وه نه یوازې دخپل ګوند او دولت د اوږد مهاله سیاست په توګه بلکې د هېواد د بیارغونې په اوږده پړاو کې د ټولو افغاني ځواکونو د ګډ ملي او افغاني سیاست په توګه مطرح کړ او دا یې څرګنده کړه ، چې هېوادنۍ ستونزې دم ګړۍ هومره پیچلې شوې ، چې یوازې یو څوک په یوازې توګه نه شي کولای هغه حل کاندي او دافغان کشالي حل په یو اړخیز ډول په اوس کې واقعیت نه لري او د یوه ځانګړي ګوند د انحصار پر حاکمیت یې د بطلان کرښه را وښکله ، دیوه ګوندي دولت د حاکمیت پر ځای د ټولو افغانانو د ملي وفاق د حاکمیت رامنځته کیدل هدف وګرځاوه. ده خبرداري ورکړ تر هغې به په هېواد کې سوله، امن او ټیکاو رامنځ ته نه شي ترڅو افغاني ښکیلي خواوې په صادقانه او رښتیني ډول د پردیو د لاسوهنې پرته د یوه میز ترشا راغونډ نه شي او هېوادنۍ ګټې تر ګوندي ، تنظیمي او ځانګړو ګټو لومړي ونه بولي، چې بیا وروسته په مکه مکرمه کې دښکیلو خواوو درا ټولیدو لپاره د داکټر نجیب اله وړاندیز خورا مشهور شو.

نجیب اله دخپل واک په ټوله موده کې په هر اړخیزه توګه هڅه او هاند وکړ چې دملي روغې جوړې سیاست دپلي کولو لپاره دښکیلو افغاني ځواکونو او ځانګړو افغاني شخصتونو او همدارنګه دښکیلو نړیوالو دولتونو دمثبتو او جوړونکو هلو ځلو لاره هواره کړې چې په دې برخه کې دملګرو ملتونو دسولې لومړني پنځه فقره ییز پلان ته چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي بینین سیوان لخوا پرمخ وړل کیده اشاره وکړو.

دوکتور نجیب الله د ژینیو د لوزنامو او افغان ولس د مجاهدت او سرښیندنې په پایله کې د پخواني شوروي یرغلګر ځواکونه له هیواد څخه وتلو ته اړ کړل په ۱۳۶۷ لمریز کال د سلواغې په ۲۲ تمه د شوروي د ځلویښتمې پلې فرقې قوماندان تورن جنرال ګروموف د شوروي ورستي پوځي د حیراتانو له پله څخه د تیریدو پر مهال چې د ځلویښتم تیري کوونکي پوځ بیرغ یې په ټیټ سر د ځان سره لیږداوه وروسته دا ورځ د ملي نجات ( ملي ژغورني ) د ورځې په نوم د یوه ځانګړي فرمان په توشیح کولو سره ونومولو چې د هیواد په تاریخ کې د نجیب الله له نامه سره نه شلیدونکی پیوند لري او افغانان هر کال دا ورځ د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې لمانځي او یادونه یې کوي او د هیواد په تقویم کې رخصتي ده.ددې کار په ترسره کیدو سره د شورویانو قهر او غصه را وپاریده او د دوکتور نجیب الله پر خلاف یې د ګوند او دولت په دننه او د کې،جي، بي ، استخباراتي سازمان سره د ټرلو کسانو او یو شمېر تنظیمي او اسلامي ډلو په شتون کې په توطیو او دسیسو لاس پورې کړ او د ملګرو ملتونو د سولې پلان چې د تطبیق وروستي پړاو ته رسیدلي و ، د ماسکو-تهران-اسلام آباد انقري او یو

شمېر لویدیځو هېوادونو په لاربښونه ددې پلان د پلي کېدو مخه ونیوه او د پلان شوي کودتا په تر سره کېدو سره د سولې پلان سبوتاژ کړل شو ، افغانانو ، چې د سولې راوستو هیلې یې په زړونو کې راټوکېدلې وې له امله یې هیلې او ارمانونه له خاورو سره خاورې شول او یوه بله اوږده کور سوځوونکې ملي غمیزه ، چې تر دې مهاله روانه ده زموږ پر کړېدلي ولس وروتپله په پایله کې هېواد د دولتي حاکمیت د تشې ( د قدرت خلا ) په ډنډ کې ورګډ او د باتور افغانانو ټاټوبې دنړیوالو ډار اچوونکو ، تر هګرو او مافیایي ډلو پر ځالې بدل شوو کوم ، چې نجیب الله د پیښیدو خبر داري ورکړې وو. نجیب الله په کابل کې د ملګرو ملتونو په ډیپلوماتیک مقر کې پنا واخېسته او تر څلورو کلونو زیات هلته بندیوان پاتې شوو. ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ وروسته جهادي او اسلامي ډلو ترمنځ د واک پر سر جګړه کې دهېواد ښارونه هم د خاورو سره خاورې شول او د رباني او مسعود په توره دوره کې د ځاني زیانونو سربیره د هېواد مادي او معنوي شتمنۍ هم په بشپړه توګه چور او تلا شوې. کله ، چې لویدیځي نړۍ د رباني او مسعود واکمنې د پخواني شوروي اتحاد او د هغې میراث خوري روسیې په چوپړ کې ولیده نو د طالبانو تر نامه لاندې تحریک یې رامنځ ته کړ. طالبانو په لومړي سرکې وکولای شول وسله راټوله او امنیت ټینګ کړي. دپلازمېنې کابل په نیولو سره د رباني او مسعود واک مات او دافغانستان د ویشلو شوروي پلان شنډ کړی خو په طالبانو کې یو شمېر سخت دریځو کړیو یو لړ داسې چارو ته لاس واچوه ، چې خلکو ته د زغملو وړ نه و. دوی د کابل په نیولو سره جوخت سم د لاسه پخوانی جمهور رئیس ډاکټر نجیب الله د ملګرو ملتونو دډیپلوماټیک مقر خوندیتوب په نظر کې نه نیولو سره په زور او جبر له هغه ځایه رابهر کړ له محاکمې پرته یې لومړی سخت شکنجه او وروسته یې وواژه. بیا یې د اسلامي، افغاني او انساني اصولو پر خلاف د هغه مړی په بې حرمتۍ سره دده د ورور جنرال احمدزي سره یو ځای دار ته وخیږاوه ، چې پلان یې لا له وړاندې د هېواد له پولو بهر جوړ شوی وو. طالبانو د شمالي ولایتونو په نیولو سره د لویدیځ له کنټروله ووتل. نړیوالو ترهګرو د اسامه بن لادن تر مشرۍ لاندې ، چې د رباني او مسعود د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې میشت وو په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې د سپتمبر په ۱۱ مه د نیویارک په ښار کې د نړیوال سوداګریز مرکز دوې غبرګې او هسکې مانۍ ونړولې ، طالبانو دامریکا متحده ایالتونو اویا کوم دریم هېواد ته د اسامه د سپارولو څخه د میلمه توب تر پلمې ډډه وکړه. او په دې ترتیب د امریکا متحده ایالتونو د ناټو ټلوالې په ملاتړ د طالبانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود او په اصطلاح نه مېلمه او نه کوربه پاتې شول.

دشوروي پوځي یرغل راتلونکې پایلې لا جوتې نه دي او دا لړۍ دوام لري وضع او حالات خورا پیچلي او دردونکي دي هیڅوک نه پوهیږي ، چې څه به کیږي؟

خو هره لحظه هر څه ممکن دي ، چې پیښ شي. پر افغانستان د شوروي پوځي یرغل پایلي نه تنها د افغانانو لپاره بلکې دتیري کوونکي لپاره هم خورا دراني او ورته په لوړه بیه تمامي شوې. سره جګړه ، چې افغانستان یې وروستي ډګر وو د تیري کوونکي هېواد په ابدي ماتې پای ته ورسیده . نړیوال سوسیالستي سیستم او د ورسا پوځي تړون ( ټلواله ) له منځه لاړل. دهغو شمېرو له مخې ، چې اوس په ډاګه شوي دي د جګړې پرمهال (۱۰۷۰۰) روسي پوځیان مړه د۲ زرو په شاوخوا کې معیوب او معلول شول. ۲۲۱ کسان تري تم ، د کي، جي ، بي

۱۸ تنه سلاکاران ووژل شول. د افغانستان جګړه د شوروي وروستي جګړه ده . دا له هغه وروستي ځانوژونکو ماینونو څخه یوه راوختله ، چې یو لوی هېواد پر والوت او دړې وړې شو ، د شوروي اتحاد ړنګیدل د شلمي پیړۍ تر ټولو ستر جیو سیاسي ناورین وو ، د روسیي دخلکو لپاره دا یوه واقعي ډارمه شوه . دافغانستان خلک د دیموکراتیک ګوند او په نړۍ کې کارګري، پرولیتري او شوروي پلوه ګوندونه باید خپله ایدیالوژیکه سهوه او تیروتنه ومني ، چې ګني سوسیالیستي انقلاب د تزاري روسیي استعماري ماهیت بدل کړي دی. څکه پر افغانستان د شوروي یرغل او په نړۍ کې نورو پیښنو دا وښودله ، چې شوروي اتحاد د تزاري روسیي استعماري ماهیت په میراث اخېستي او د سوسیالیزم څخه یې د یوې تیریدونکي مرحلې په توګه ګټه پورته کوله.

نیکمرغه دې وي د ملي نجات ورځ